بسم الله الرحمن الرحيمa

## د حزب الحترير مطبوعاتي دفتر د ښځو څانګه؛ روښانه نور او د حق لوړ اواز!

### خبر

د قرغېزستان ملي امنيت ځواکونو د۲۰۲۰م د جولای په ۲۷مه، اته کسه مسلمانانې ښځې، په نارين ښار کې له حزب التحرير سره د اړيکو په تور ونيولې. له دې ډلې ارونوفا ارکينجول او بايتبيک کېزې محبت په بند محکومې شوې. د حزب التحرير مطبوعاتي دفتر د ښځو څانګې، د اګېسټ په ۲۱مه د قرغېزستان له طاغوتي نظام څخه، د هغوی د ژر خوشې کېدو او د مسلمانو ښځو پر وړاندې د وحشت پای ته رسولو په پار (د مومنو ښځو ډارول نور بس دي) تر عنوان لاندې لاريون پيل کړ او د الله سبحانه وتعالی په فضل او رحمت زموږ دوې مسلمانې خويندې د ۲۰۲۰م د سپټمبر په پنځمه بېرته خوشې شوې.

### تبصره

اوسمهال د ګڼو تمايلاتو له امله مسلمانو ښځو خپله لاره ورکه کړې ده. يو تمايل دا دی چې هغوی د نړيوال کېدو په نوم، غربي افکارو ته رابولي، تر څو له اسلامي احکامو او د شريعت له اوامرو سرکشي وکړي. بل مفهوم چې له اسلام سره اړيکه هم نه لري دا دی چې ښځه د بندي په څېر له کوره د وتلو حق نه لري او کومه لاره چې اسلام ورته ټاکلې هغې ته پاملرنه ونه کړي. درېيم مفهوم ښځې د دغه دواړو افکار تر منځ منځګړيتوب ته رابولي، اسلامي افکار او مفاهيم يې ترې پټ کړي او کلونه يې ژوند ضايع شوی او له هغوی څخه د وسايلو په څېر ګټه اخيستل کېږي.

اسلام راغی چې هر څه په خپل ځای منظم کړي او دا هماغه څه دي، چې د حزب التحرير مطبوعاتي دفتر د ښځو څانګې له اسلامي تبنياتو څخه د اسلامي امت د مهمو قضاياوو، په څانګړي ډول د ښځو اړوند مسايلو په اړه يې ترسره کړي دي. د حزب التحرير دغه ډول کړنې يوې کښتۍ ته ورته دي، چې ستونزې هواروي او په اسلامي حللارې سره يې له منځه وړي، تر څو مسلمانه ښځه د عزت، ټينګ عقيدوي باور، غوره امنيت او هوساينې پر لور رهبري کړي. دا لومړی لاريون نه دی چې د حزب التحرير مطبوعاتي دفتر د ښځو څانګې ترسره کړی، بلکې د مسلمه امت ټولو قضياوو په څانګړي ډول د ښځو اړوند مسايلو ته يې د نړۍ په هر ګوټ کې د الله سبحانه وتعالی  د دغه امر مطابق لبيک ويلی دی.

**﴿وَإِنِ اسْتَنصَرُوكُمْ فِي الدِّينِ فَعَلَيْكُمُ النَّصْرُ...﴾**

[انفال: 72]

***ژباړه:*** *که له تاسو څخه يې د دين په اړه مرسته وغوښته، پر تاسو يې مرسته واجب ده.*

د مسلمانو خویندو د نیولو خبر د قرغېزستان دولت د نړۍ په ګڼو ژبو د خبري پاڼو او شبکو له لارې په ژوندۍ بڼه خپور کړ. دا په داسې حال کې ده چې د ښځو د حقونو بنسټونو، نه یوازې دا چې دا بد چلند او کړنه یې ونه غندله، بلکې چوپ پاتې شول او ان یرغلګر او قاتلین یې وستایل.

لکه څرنګه چې د حزب التحریر مطبوعاتي دفتر د ښځو څانګه د مسلمه امت مهمې پېښې خپروي، د هغو رسنیو په منځ کې چې د غرب د ګټو، د حقایقو په پټولو سره د اسلامي امت د ګمراه کولو هڅه کوي، د نړیوالو رسنیو لپاره جدي ګواښ او خنډ دی. یادې رسنۍ نړۍ د تعصب پر لور بیایي او د هرې اسلامي برنامې، چې د امت د راویښولو لپاره دي، غواړي پرې برلاسي شي. دا د هغوی د مکررو اندېښنو ښکارندویي کوي، چې موخه یې د حزب التحریر مطبوعاتي پاڼې دي.

له همدې منبره غیرتي خویندې؛ هغه چې د اسلامي دعوت امانت او د حق دین نصرت په غاړه لري، هغوی ته هم وایو چې د حزب التحریر له صفوفو سره یو ځای شئ، د پاکو ښځو، د شریعت په احکامو او د رب د اوامرو منونکې، یوه غوره بېلګه شئ. د نبوت پر منهج د ثاني راشده خلافت د تاسیس لپاره، چې د بشري نظامونو له حرص څخه د بشریت او ځان ژغورنې یوازینۍ لاره ده، کوښښ وکړئ.

**لیکواله: م. درة البکوش**

**ژباړن: الهام پردېس**